دافغانی ماشومانو
لپاره
لیکنه



۲۰۰۱ - فبروري

50th anniversary UNHCR the UN refugee agency

د افغاني ماشومانو

لپاره

ليکنه

د انګليسي متن ايډيټر : ډاکټر س . ب . ايکانايکې

ژباړن : عبدالقيوم کريم

کتونکی : محمد اسمعيل يون

50th anniversary
UNHCR
the UN refugee agency

۲۰۰۱ - فبروري

لومړنی خبرې

د افغاني ماشومانو یوه مهمه اړتیا درسي مرستندوی مواد دي ،ځکه چې دوی د سواد زده کړې د پرمختیا په برخه کې د نورو برابر شویو درسي کتابونو او مرستندویو موادو له کمښت سره مخ دي. دغه مواد باید په پوره پاملرنې سره برابر شي چې د دوی اړتیاوې او هیلې، د مهاجرینو ربړې ، د ټولنې ستونزې او اقتصادي او فرهنګي محدودیتونه منعکس کړي. له همدې کبله UNHCR او یونسکو د افغانانو لپاره یو روزنیز پروګرام جوړ کړ . د دغه روزنیز پروګرام نوې برخه ساحوي کار و چې لیکوالو له ماشومانو څخه د مجلې د موادو د برابرولو د یوې سر چینې په توګه ګټه واخیسته.

دغه کتابګوتۍ« د افغاني ماشومانو لپاره لیکنه » د لیکوال روزنې د کار طریقه وړاندې کوي چې د داسې کسانو د راتلونکې روزنې لپاره ډېر ګټور دی . د افغانستان په برخه کې د داسې یو کار موخه عامه ده . زه هیله لرم چې افغانان له دغه کتابګوتې څخه د خپلې ټولنې او راتلونکي پښت د روزنې لپاره ګټه واخلي.

په درنښت

ډاکټر پریم کساجو

د یونسکو مشر

افغانستان - پاکستان

اسلام آباد

۱۹۹۹ د اکتوبر درېیمه

سریزه

دغه کتابگوتی «د افغاني ماشومانو لپاره لیکنه» د هغه ورکشاپ پایله ده چې د افغانستان او پاکستان لپاره د ملګرو ملتونو د اداري له خوا جوړ شوی و . د دغه ورکشاپ بنسټیزه موخه د ماشومانو مجلې د ښه والي لپاره د هغې لیکوالو ته لارښوونه او د لیکوالې ډلې روزنه وه چې په راتلونکي کې د هغوی له هڅو او کار څخه ګټه واخیستل شي.

د افغاني ماشومانو لپاره د لوست وړ مواد ببلابېل اړخونه لري چې یو مهم اړخ یې د سواد زده کړې د بشپړونې لپاره د لېوالتیا را ټوکول دي. نور اړخونه کېدای شي دا وي چې د زده کړې د هېرېدنې مخنیوی وشي، د عصري نړۍ د روانو بدلونونو په باب معلومات برابر شي، د افغانستان په برخه کې د سولې د فرهنګ ارزښت او د تحمل او زغم اهمیت څرګند شي، د افغانستان د پرمختیا په برخه کې د پوهنې د رول او اغېز په باب معلومات برابر شي او د مفاهمې یو داسې چاپېریال رامنځته شي چې افغانان خپل کور او کلي ته د بېرته ستنېدو په باب پرېکړه وکړي.

په اوسني وخت کې د (معارف) مجلې د پورتنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره هاند او هڅه کوي چې دا کار د ستاینې وړ دی.

د ماشومانو لپاره لیکنه ځانګړي استعدادونه غواړي. په افغانستان کې د روانو ستونزو له کبله افغاني لیکوالو ته ښه پاملرنه نه ده شوې، چې دې کار د دوی د استعدادونو د غوړېدنې لار ډب کړې ده .لیکوال د خپل فکر و خیال د پوره بیان لپاره محدود امکانات لري. موږ پوره باور لرو چې دغه ورکشاپ به دغه اوسنۍ تشه ډکه کړي. دا ورکشاپ د ښوونې او روزنې په برخه کې د UNHCR د رول د ځواکمنې او د ماشومانو د حقوقو د څرګندولو په باب یو ستر ګام دی.

په اوسني وخت کې دغه کار د مهاجرینو او بېرته ستنېدونکو لپاره د ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو په ځواکمنې کې

برخه اخلي. دا يوه لړۍ ده چې د کډوالو استعداونه غوړوي او UNHCR دا هڅه هم لري چې د مهاجرينو د بېرته ستنېدنې په کار کې د اسانتياوو د برابرولو او له هغوی سره د نورو مرستو تر څنګ د ښوونې او روزنې په برخه کې هم مرسته وکړي.

د ورکشاپ په طرح کې عملي او نظري کارونه په پام کې نيول شوي وو . د محتوا په برخه کې هغو موضوعاتو ته پاملرنه شوې وه چې يو ماشوم بايد د خپل شخصيت د غوړونې لپاره پرې وپوهېږي. د ورکشاپ ساحوي کار له ماشوم څخه ماشوم ته د موادو د برابرلو د يوې سرچينې په توګه د کار ښه طريقه په ګوته کوله. له دې کبله د ورکشاپ برخوال بريالي شول چې د ورکشاپ په بهير کې دوه بېلګه ييزې (نمونه يي) مجلې جوړې کړي.

دغه کتابګوتی به په افغانستان کې لومړنی نوښت وي چې د تخليقي ليکنې په برخه کې لارښونه کوي، کېدای شي په راتلونکي کې نور هم بشپړ شي. دغه راز نورو زونکي (ترينران) هم کولای شي د تخليقي ليکنې په برخه کې د دغه ورکشاپ د کار له ميتود څخه ګټه واخلي.

په دې اړه غواړم د پاکستان لپاره د UNHCR له اداري څخه د دغه ورکشاپ د جوړونې او پلانونې په کار کې د هغوی د همکارۍ له کبله مننه وکړم. په ځانګړي توګه غواړم د پاکستان لپاره د UNHCR اداري د عامه معلوماتو څانګې له مرستيال عبدالقيوم« کريم » د G.T.Z. Befer د اداري کار کوونکي پوهاند محمد رحيم الهام څخه چې د ورکشاپ په جوړولو او پرمخبيولو کې يې زياته ونډه اخيستې او د ورکشاپ له برخوالو څخه مننه څرګنده کړم. د ورکشاپ د طرحې ، ډيزاين او کار د پرمخ بيولو په برخه کې د افغانستان لپاره د UNHCR يونسکو د بنسټيزو زده کړو له مشاور ډاکتر ايس بي ايکانايکې له خدمتونو څخه هم مننه څرګندوم.

په درناوي

احمد سيد فرح

د افغانستان لپاره د UNHCR د اداري مشر

۱۹۹۹ اګست

د تخليقي ليکنې د اهميت په باب څو خبرې

زما لپاره د خوښۍ ځای دی چې د تخليقي ليکنې په باب د جوړ شوي ورکشاپ په پرانيستو کې برخه اخلم. تر کومه ځايه چې زه پوهيږم ماشومانو ته ليکنه د دغه ورکشاپ موخه ده .

ماشومانو دا ثابته کړې ده چې دوی د جذب زيات ځواک لري ، هغه څه چې مور تر سره کوو دوی يې زده کوي او عملي کوي يې او هغه څه چې دوی لولي پرې عمل کوي . مور نه يوازې دا چې دوی روزو ، بلکې د خبرو او عمل له لارې د دوی د شخصيتونو په وده کې هم برخه اخلو .کله چې ماشومانو ته ليکنه کوو دا مو بايد په ياد وي چې زمور د ليکنې هره کلمه ، زمور د ماشومانو پر ژوند باندې ښه يا بد اغېزې کوي. ماشومان د « معارف مجلې » په لوستلو سره کولای شي د خپل هېواد په باب معلومات تر لاسه کړي او د خپل فرهنگ او تولنيزو ارزښتونو درناوی زده کړي.

افغان ولس ډېر سخت کړکېچن او سونزمن حالات تېروي ، د دوی ماشومان د تېرو دوولسيزو په بهير کې بنسټيزو بشري حقوقو ته د رسېدنې په لاره کې له زياتو ستونزو سره مخامخ شوي. مينډې او پلرونه د غريبۍ له کبله خپلو ماشومانو ته د ليک لوست شرايط نه شي برابرولی ، په داسې حالاتو کې ليکوال زيات مسوولیت لري چې د ضايع شوي وخت د جبران لپاره فکر وکړي او لاره چاره ولټوي. زه پخپله د ماشومانو لپاره د ليکل شويو کتابونو له لوستلو څخه خوند اخلم. په ښه هېوادونو کې سفرونو څخه راته دا خبره جوته شوې چې هر هېواد ځانته خپلې لرغونې کيسې او متلونه لري چې د ژوندانه هنر

، د شخصیت د ودې دودیز اصول او نور څرګندوي.

ځینې کیسې لیکل شوي او له یوه پښته بل ته رسېدلي دي. ځینې کیسې په ښکلې او انځوریزه ښه تشریح شوي ، چې یوه ښه بېلګه یې په پاکستان کې د افغاني ماشومانو لپاره د بي بي سي د روزنیزې پروژې تصویري کتابونه دي . ځینې کیسې په خپرونو کې له تصویرونو پرته چاپ شوي، چې لوستونکي یې تر وروستۍ جملې پورې لولي. دا ټول په دې مانا دي چې لیکوال د لوستونکو د پاملرنې په خپلولو کې بریالي شوي دي.

تخلیقي لیکنه یو هنر دی .لیکوال باید په دې هنر کې د بریالیتوب لپاره پر دې وپوهېږي چې د دوی لوستونکي څوک دي؟ په کوم عمر کې دي ؟ لېوالتیا یې څه ده ؟او په کومې ټولنیزې ډلې پورې اړه لري ؟ لیکوال باید بې له شکه د لیکنې پر موضوع هم واکمن وي. کېدای شي یوه کیسه بې خونده وي ، خونده وره وي او ان را پارونکې وي.

دا هر څه د لیکوال په استعداد او د لیکنې په بڼې پورې اړه لري.

دا ورکشاپ به له لیکوالو سره د دوی د لیکنې د بڼې په بشپړوالي او د انځورونې په وده کې مرسته وکړي چې دوی د لیکنې د موادو د الهام نوې سرچینې ولټوي او خپلې مفکورې په ساده ، نېغه او په زړه پورې بڼه لوستونکو ته وړاندې کړي.

غواړم د دغه ورکشاپ له جوړونکو او پر مخ بیونکو کسانو څخه چې د دغه پروګرام بې عملي کړ مننه وکړم ، ستاسو د لیکنو د لوستلو په هیله .

په ډېر درنښت

مېرمن میري فرانس سویسترا

په پېښور کې د UNHCR د دفتر مشره

۱۹۹۹ د اکتوبر لومړۍ نېټه

مننه

غواړم د دغه روزنیز ورکشاپ د جوړېدو په کار کې د افغانستان لپاره د UNHCR د اداري د څانګې مشر محمد ادار او د پاکستان لپاره د UNHCR د اداري د څانګې مشر ګرت وان د هکستیل څخه د دوی د مرستو له کبله مننه وکړم، همدارنګه د UNHCR اداري د پېښور څانګې مشري مېرمن میري فرانس سویسترا او د نوموړې اداري د پروګرام د برخې کار کوونکي نیاز احمد څخه د دغه ورکشاپ د پر مخبیولو په کار کې د هغوی د پرله پسې ملاتړ له امله مننه کوم. د ورکشاپ د پلانولو، جوړولو او پر مخبیولو په چارو کې د UNHCR د عامه معلوماتو څانګې له مرستیال عبدالقیوم کریم او د افغانستان لپاره د UNHCR د مرستیالې کار کوونکې ډاکټرې صایمې پاینده څخه د دوی د مرستو له کبله ځانګړې مننه په کار ده. د G.T.Z د اداري کار کوونکي پوهاند الهام د ورکشاپ د اووه ورځینې کار په بهیر کې د خپلې وینا پر مسوولیت سر بېره له ما سره د ژباړونکي په توګه همکاري وکړه، د دوی له همکاري څخه هم زیاته مننه څرګندوم.

دغه راز د طراح، عکاس، خطاط، او انځورګر، د ورکشاپ د برخوالو او د التقوی لېسې د کارکوونکو او زده کوونکو برخه اخیستنه هم د ستاینې او مننې وړ ده. د یونسکو د کارکوونکي و مېرمن انجم ریاض الحق او د پاکستان لپاره د UNHCR د معلوماتو څانګې له مشر یوسف حسن څخه د دغه کتابګوتې د متن د سمون له کبله هم مننه کوم.

په ډېر درناوي

ډاکتر اس، بي، ایکانایکې

د افغانستان لپاره د UNHCR اداري

د بنسټیزو زده کړو مشاور

۱۹۹۹ د سپتمبر ۲۱ مه

WRITING for AFGHAN CHILDREN



50th anniversary UNHCR the UN refugee agency

February 2001

پېژندنه

شالید (پس منظر):

د ماشومانو ادبیات له پخوا زمانې راهیسې وو، خو ننني بڼه یې نه لرله. دغو ادبیاتو پخوا ګړنۍ (شفاهي) بڼه لرله چې د مشرانو پواسطه ویل کېدل. دغو موادو د مذهبي مسایلو، ټولنیز ژوند، چاپېریال ساتنې، بڼه سلوک، مشرانو ته د درناوي، پاملرنې او مهربانۍ په هکله ماشومانو ته مثبت پیغامونه رسول. دغو پیغامونو د ماشوم شخصیت او کرکټر د بڼه سلوک لوري ته را کاږه. ځینو کیسو تاریخي بڼه لرله، ځینې یې د دین په باب وې، ځینو مذهبي مسایل څرګندول او ځینو به د کیسې (لغز) بڼه لرله خو د کیسې په پای کې به یو مثبت پیغام و.

د لیکنې بنسټ:

د ماشوم د دودیزو ادبیاتو پیغامونه د ټولنپوهنې او ارا پوهنې د عصري اصولو پواسطه څېړل شوي دي. دا پیغامونه داسې ځواک لري چې د انساني کړو وړو ارزښت څرګند کړي او پر انساني طبعیت پوهېدل اسانه کړي. ځینې کیسې د واکمنو او ټولنو په باب داسې انتقادي مواد لري چې په ښکلا ښکلو بڼو د هغوی نیمګړتیاوې په ګوته کوي دا کار واکمنو، غریبانو، شتمنو او نورو خلکو ته یو لوی درس دی. د دغو کیسو د لیکوالو موخې نن هم د پلي داسې پیغامونه او مانا وې د اوسنۍ پېړۍ د ډېرو جدي ډرامو، شعرونو او ناولونو موضوع ګرځېدلې ده. څرنګه چې لیکنې به د ټولنیز ژوند او د هغه د چاپېریال پر بنسټ لیکل کېدې نو له دې کبله د ماشوم د تخلیقي وډې سبب ګرځېدې.

دا کیسې له یوه پښته بل ته د وینا پواسطه ولېږدېدې او وروسته بیا لیکنې بڼه ورکړای شوه او له چاپي اسانتیاوو وروسته د چاپي مواد په بڼه وارول شوې.

نن هم د داسې دودیزو کیسو ډېرې بېلګې شته چې د مشرانو پواسطه ماشومانو او ځوانانو ته تر خوب د مخه ویل کېږي.

کېدو وړ دي.

عصري لیکوال د ماشومانو لپاره له دودیزو لیکنو څخه ګټه اخیستلای شي. که چېرې توپیرونه هم وي نو له عصري ژوند سره اړه پیدا کوي. که د دودیزو لیکنو څېړنه وشي او د ننني لیکنې بنسټ د عصري نړۍ له اړتیاوو سره یو ځای وکارول شي نو د ماشومانو لپاره د لیکنو د ځانګړتیاوو په پېژندنه کې له مور سره مرسته کوي.

موخې (هدفونه)

دا کتابګوتی د هغه ورکشاپ یا روزنیز پروګرام پایله ده چې د شلوغوره شویو افغاني لیکوالو لپاره جوړشوی و. د دغه روزنیز پروګرام ستر هدف د ماشومانو لپاره د لیکوالو د استعدادونو غوړول و. دغه استعدادونه نه یوازې په لیکنې پورې اړه لري، بلکې د سر چینو په پېژندنه او تشخیص او د ماشومانو د یوې مجلې د ودې لپاره د فعالو برخوالو په توګه د ماشومانو په هڅولو پورې هم اړه لري. د دغه روزنیز پروګرام په چارو کې د لیکنې بنسټیز اصول، د ماشومانو لپاره د اوسنیو مجلو څېړنه او ارزونه، د لیکنې د ارزونې لپاره د معیارونو تاکل، ساحوي کار او د دې لپاره چې ماشومان په لیکنه کې شامل شي او برخه واخلي د هغوی لیدنه او د ښلګه ییزو مجلو جوړول شامل وو. افغاني ماشومان په تېره بیا مهاجرین د دغه پروګرام اساسي برخه وه، اصلي هدف دا و چې د افغاني لیکوالو استعدادونه وغوړول شي چې په افغانانو پورې اړوند مسالې وڅېړي او لیکنې پرې وکړي. د ښلګې په توګه مهاجرین، بېرته ستنېدونکي، او د دوی تولنیزې ستونزې او داسې نور.

افغانان د دوديزو کیسو ډېره شتمني لري چې دغه کیسې په پورتنیو مسئلو پورې تړلي ښلا ښل مسایل رانغاړي. په داسې حال کې چې له دغو مسایلو څخه د زېرمه ییزو موادو په توګه ګټه اخیستل کېږي، اوسنیو اړتیاوو ته هم کېدای شي د پر مختګ د لید له زاویې نه وکتل شي.

د دغه پروګرام په کار کې د مجلې لپاره له ښلا ښلو سر چینو څخه د لیکنې موادو د تولولو طریقې ډېرې مهمې وې چې قرار دادي ښه یې نه لرله. له ماشومانو څخه په نېغه یا مستقیمه توګه د موادو راټولول یوه له هغو سر چینو څخه ده چې د ماشومانو د تخلیقي استعدادونو د ودې په برخه کې دهغوی د هڅونې سبب ګرځي او همدارنګه له ماشومانو سره مرسته کوي چې د ننني نړۍ په باب پوهه او معلومات تر لاسه کړي. د لوست د موادو کمښت هغه غټ فکتور دی چې د زده کړې د لړۍ په وړاندې یو خنډ او ښسوادۍ ته د ماشومانو د ښېرته راګرځونې عامل ګڼل کېږي. د غه پروګرام به د زده کړې د فرهنګ له ودې سره هم مرسته وکړي. د دغو موخو په پام کې نیولو سره د افغانستان او پاکستان لپاره د UNHCR د ادارو له خوا د تخلیقي لیکوالو د روزنې لپاره دغه روزنیز پروګرام جوړ شو.

۱ - د مرستندویو درسي موادو له لارې د افغاني ماشومانو بډاینه

ډاکټر اس،بي ایکانایکي

هېر شوی نسل :

تېرې دوه لسیزې د افغانانو لپاره د غمجنو کیسو کلونه دي. دوی په دې کلونو کې ګاونډیو هېوادو ته مهاجر شول نوله دې کبله له ګڼو محرومیتونو سره مخامخ شول. له دغو محرومیتونو څخه ډېر دردونکی محرومیت د زده کړې او استعدادونو د ودې او غوړېدو د امکاناتو له لاسه ورکول دي. د دوی روزنیز جوړښتونه په عمومي ډول زیانمن شوي دي . تر اوسه پورې یو نسل د زده کړې له نعمت څخه محروم شوی او بل نسل هم له دغه محرومیت سره مخامخېدونکی دی . دا ټول د افغانستان پر راتلونکي ودې او پرمختګ ناوړه اغېزه کوي . نو ځکه دغه غمجنه کیسه د دې غمیزې د لا اوږدېدو لپاره لاره اواروي.

له دې ستونزې سره سره افغان مهاجر ماشومان له خپلې اړتیا سره سم ښوونې او روزنې ته هیله من دي .

په پاکستان کې له یو ملیون نه د زیاتو افغان مهاجرو یوازې سل زره تنه ماشومان پر زده کړه بوخت دي. خو د دوی ټولې اړتیاوې پوره شوي نه دي. ځوانان بل هغه قشر دی چې د دوی دا ډول ستونزې هم حل شوي نه دي . پداسې حال کې چې د ټولو لپاره د رسمي زده کړو امکانات برابرېدلای نه شي ، خو بیا هم ضروري زده کړې او هغه غټ مسایل چې ماشومان او ځوانانو ورسره مخامخ دي په ګوته کېدای شي . دا مسایل په دې ډول دي :

د لومړنیو اړتیاوو په باب د معلوماتو نشتوالي ، د ژوندانه د ښه والي لپاره د درسې مهارتونو د لاړښوونې نشتوالی ، د مهاجرینو په ذهنونو کې د سولې د فرهنګ وده او پرمختیا ، د دوی د روحي ژوند پېژندنه ، ذهني شوک ، د معلوماتو سرچینې ته رسېدنه او داسې نور دي ،خو ځینې داسې موخې شته چې د هغو په باب مهاجرین غواړي معلومات تر لاسه کړي او زده کړې وکړي. د ښوونځیو رسمي سیستم دا هر څه نه شي برابرولای او د لوستلو لپاره مواد هم نشته .

نوښت:

د پورتنیو اړتیاوو له مخې په پاکستان کې د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره (UNHCR) د « معارف » تر سر لیک لاندې د یوې مجلې د خپرولو تکل وکړ ، دا مجله د یاد شویو اړتیاوو زیاته برخه رانغاړي او له مهاجرو ماشومانو سره د لیک لوست په برخه کې مرسته کوي ، چې دوی د وخت په تېرېدو سره خپل

استعدادونه وغوړوي. دغه رازيه دا مجله د کم لوستو ماشومانو د لوست په بشپړاوي کې مرسته وکړي .

د مجلې بل هدف دادی چې په دوی کې د لیک لوست دود پیاوړی کړي . دغه مجله به په افغانستان کې د استوګن ماشومانو او په تېره بیا هغو ته چې د لیک لوست د موادو له کمښت سره مخامخ دي هم یو ګټور سند وي.

له مجلې نه ګټه اخیستونکي:

څرنګه چې په پاکستان کې د مهاجرو په چارو کې د ملګرو ملتو د اداري له خوا د مجلې لپاره تاکل شوي هدفونه ببلا ببل مسایل رانغاړي ، نو په کار ده چې مجله په ښه ښه جوړه او ډېره پرمختیا او وده وکړي.

افغاني ماشومانو ته د مجلې لرل نوې مفکوره ده . دا مو په یاد وي چې د لیک لوست مواد لږ دي نو هر څه چې وړاندې کېږي باید په ښه ډول وړاندې شي چې لوستونکي وهڅوي او د هغوی شمېر زیات کړي . په دې ډول باید نه یوازې ماشومان ، بلکې لویان هم د هغې د موادو له لوست څخه خوند واخلي .

سره له دې چې خلک غواړي د ماشومانو ، ښځو ، ځوانانو او لویانو لپاره یوه عمومي مجله خپره شي ، خو مالي ستونزې ، د لیکوالو تجربې ، سرچینې ، لوستونکي او څېړنیزې اړتیاوې د دې مخه نیسي ، دا ډول کارونه په پر مختللو او لوستو ټولنو کې تر سره کېدای شي ، خو په اوسنیو شرایطو کې د افغاني ټولنې له پاره ستونزمن بربښي.

د ماشومانو ډېره لېوالتیا :

دا مجله د ماشومانو د حقوقو په نړیوال ټرون کې د هغوی یاد شوي حقوق په پام کې ساتي. په مجله کې د ماشومانو اړتیاوې ځایوي چې د هغوی د لوستلو هیلې او نوښت ته وده ورکړي او د معلوماتو د راټولولو میتود یې بشپړ کړي. په مجله کې د لیکنو محتوا یې انډول او د بڼې د ښکلا ارزښت هم په پام کې نیول کېږي او د حساسو فرهنګي موازینو درناوی کېږي .

په راتلونکي کې د مجلې خپرول ، بله هغه مسئله ده چې باید فکر پرې وشي ! ځکه چې دا مجله په خپل ډول لومړنۍ مجله ده چې د مهاجرو ماشومانو لپاره خپرېږي. د مجلې کار په ډېرې پاملرنې سره پر مخ ځي چې دا خبره د لیکوالو کار سختوي او د ځانګړو مهارتونو غوښتنه کوي . دا هیله هم کېږي چې زده کوونکي او ماشومان د مجلې د کار په بهیر کې شامل شي . د دوی له ګډون نه هدف دا دی چې دوی د مجلې د څرنګوالی په باب نظر څرګند کړي او له هغې سره قلمي همکاري وکړي. کېدای

شي مجله د ځوانو لیکوالو د لیکنې همکاری او برخه اخیستنې درناوي او نازولو لپاره هڅه وکړي.

د چلند پراختیا او وده :

ځرنګه چې په پاکستان کې مېشته مهاجرین په بېلا بېلو افغان قومونولکه پښتنو ، تاجکو ، بلوڅو ، ترکمنو ، نورستانیانو او هزارو پورې اړه لري نو له دې کبله باید د مجلې مطالب په دې هر احتیاط سره برابر شي . هغه لیکنې چې په هغو کې د کوم قوم سپکاوی وي ، هغه باید په مجله کې ځای ونه مومي. له همدې کبله باید د خلکو بېلا بېلې اړتیاوې په پام کې ونیول شي ،ځکه چې دوی فکر وکړي چې دوی تولوته پاملرنه کېږي او دا خبره د مجلې لپاره یو ګټور تکی دی . د مجلې لیکوال باید هغه مسایل چې مهاجرین او نور افغانان ور سره مخامخ دي د لیکنو د موضوع په توګه غوره کړي. د ساري په توګه د سولې فرهنګ، ملګرتیا ، فرهنګي میراثونه، د خلکو او واکمنو دندې او حقوق، مخدره مواد او له ماین ځخه خبرتیا ، چاپېریال او داسې نور هغه مسایل دي چې په مجله کې باید ورته پاملرنه وشي. د بېلا بېلو مهارتونو وده هم باید د مجلې په هدفونو کې راشي، د بېرته ستنېدنې په باب د مثبت فکر وړاندې کول او په افغانستان کې د ننه حالاتو او ورځینې ژوند په باب د معلوماتو برابرول بلله هغه مسئله ده چې په مجله کې باید ورته ځای ورکړ شي ، ځکه کېدای شي مهاجرین د خپلو اوسنیو امکاناتو په پرتله د هېواد دننه امکاناتو ته زیات پربشانه وي. ملت جوړونه د مجلې د چلونکي او لیکوالو دنده ګڼل کېږي او دا خبره د مجلې د لیکوالو د استعدادونو د لا غوړونې اهمیت ځرګندوي .

په تخلیقي لیکنه کې د

ماشومانو ونډه

د استعدادونو غوړول

څرنګه چې په پاکستان کې افغاني مهاجرین د پښتنو ، تاجکو ، بلوڅو ، ترکمنو ، نورستانیو او هزاره ګانو په ښه لړ ښه قومونو پورې اړه لري ، له دې کبله د لیکنې د مواد و حساسیت ته ډېره پاملرنه په کار ده . د هغو مسایلو له لیکنې باید ډډه وشي چې یو قوم ته زیان رسوي. د دغه ستر ملت د غټو اړتیاوو په پام کې نیولو سره باید د مجلې په وړاندې د ماشوم چلند مثبت لوري ته را کاږل شي. همدارنګه باید هغه مسایل چې مهاجرین ورسره مخ دي او د دوی د لهوالتیا وړ دي د لیکنې د موضوع په توګه وټاکل شي. سوله ، فرهنګ ، ملګرتیا ، فرهنګي میراثونه ، د خلکو او واکمنو حقوق او دندې ، د مخدرو مواد و مخنیوی او د ماین خبرتیا ، چاپېریال ساتنه او داسې نور هغه مسایل دي چې په دې مجله کې باید په ټام کې ونیول شي. د استعدادونو وده د مجلې د پاملرنې مهمه برخه ده . هیواد ته د ښه ستنېدو په باب د ښه ذهني حالت را منځته کول او د هیواد د ننه د تفاهم د فضا برابرول د مجلې نور هدفونه ګڼل کېږي، ځکه کېدای شي ښه ستنېدونکي د هیواد د ننه د ښو دندو د نشتوالي له کبله ذهني ستریا احساس کړي. په داسې حال کې چې د مهاجرت په چاپېریال کې یې تر دې ښې دندې لرلې وي. د پورتنیو مسالو په پام کې نیولو سره د مجلې لیکوالو او کره کوونکو مسوولیت په زیات واټن کې په ملت جوړونې پورې اړه پیدا کوي چې دا کار د مجلې د لیکوالو د استعدادونو د روزنې اهمیت په ګوته کوي.

د ورکشاپ برخوال او د ورکشاپ چلوونکي

۲ - ولې د ماشومانو لپاره یوه مجله

په دې برخه کې هغه غټ دلیلونه چې د ماشومانو په تېره بیا د افغاني مهاجرو ماشومانو ، ببرته ستنېدونکو او د هېواد دننه د بې ځایه شویو وګړو لپاره د درسي مرستندویو موادو د اهمیت او ارزښت په باب د ورکشاپ د برخوالو له خوا په ګوته شوي دي راوړل کېږي. دغه دلیلونه وروسته د بېلګې ییزو مجلو په جوړونه کې ډېر مرستندوی ثابت شول. دغې طریقې برخوالو ته وخت ورکړ چې د یوه افغان په توګه د خپلو ماشومانو د اړتیا وړ ددرسي مرستندویو موادو په باب فکر وکړي. په ګوته شوې ساحې د ماشومانو لپاره د مجلو او نورو تخلیقي موادو د برابرولو په برخه کې افغاني لیکوالو ته د لارښود حیثیت لري ، مفکورې له تفصیل پرته تر بېلا بېلو سر لیکو لاندې په دې ډول راوړل کېږي.

الف : خلاقیت او د استعداد غوړونه

۱ - د عملي زده کړې په کار کې مرسته

- شخصي زده کړې ته لارښود تخنیکونه.
- د تجربې پر بنسټ زده کړه ژوره او حقیقي زده کړه ده .
- تجربه یي زده کړه نا رسمي زده کړه ده .
- دا زده کړه مرسته کوي چې معیاري زده کړه د نورمونو پر بنا د زده کړو په مقابل کې غوره شي .

۲ - د کمیونیکشن د استعدادونو انکشاف

- پر ژبه باندې ښه تسلط.
- د کار مینډنې په بېلابېلو ډولونو کې مرسته .
- لیکنه هڅول او تحریکول دي .
- د علاقې وړ استعدادونو بشپړتیا .

- له انفرادي کسانو سره مرسته.

۳ - د ماشومانو د لیکنې د ظرفیت بشپړول

- په ماشومانو کې پر ځان د باور روزل.

٤ - د زده کوونکي ذهني وده.

- د تصور او تخلیق د کار وده.

- د ماشومانو د مطالعې او لوستلو د شوق وده.

- د پوهې په ترلاسه کولو سره د زیاتې لېوالتیا را منځته کول.

٥ - د افغاني ماشومانو له اروایي اړتیاوو سره مرسته .

- له ماشوم سره مرسته یانې هغه داسې فکر وکړي چې پاملرنه ورته کړي .

- د ښه راتلونکي د تصور او هیلې احساس ته وده ورکول.

٦ - په ټولنیزو ، کلتوري اړتیاوو کې مرسته

- د چاپېریال په اړه.

- بېرته ستنېدنې ته هڅول.

ب : د ملت بیا رغونه

۱ - د عام طبیعیت په باب د معلوماتو راټولونه

- له عصري نړۍ سره د ماشومانو اشنا کول.

- له خلاوو او داسې میتودونو سره د ماشومانو اشنا کول چې دا خلاوې ډکې کړي .

- له ماشوم سره مرسته چې د نړۍ له چیلنجونو مقابله وکړي.

- له ماشوم سره مرسته چې د نړۍ د اوسنۍ او زغم اهمیت وپېژني.

۲ - د افغانستان د دودي لپاره په ماشومانو کې د مسوولیت احساس پیدا کول.

۳ - د ماشوم د حقوقو او دندو په باب د خبرتیا زیاتول. دغه حقونه او دندې د ښوونې او روزنې، ژوند، بیارغونه، د مشرانو درناوی، ټولنیز فعالیتونه، روغتیا، معلومات، د نورو درناوی او رعایت، د بیان ازادي او نور دي.

د سبا ورځې ماشومان خپل وخت نه ضایع کوي

عملی کال

په دې برخه کې د ورکشاپ غړو ته پنځه موضوعګاني ورکړل شوي چې د هغو په باب خپل نظریات څرګند کړي.

۱ - مجله د ماشوم د نوښت او خلاقیت د وسیلې په توګه.

۲ - مجله د ماشوم د حقوقو د څرګندولو د وسیلې په توګه.

۳ - مجله د سوله غوښتنې او زغم زیاتولو د وسیلې په توګه.

٤ - مجله د ماشوم د زده کړې د وسیلې په توګه.

٥ - مجله د افغانستان د راتلونکي پرمختګ د وسیلې په توګه.

تردې وروسته د ورکشاپ برخوال پر پنځو ډلو ووېشل شول او هرې ډلې ته له پورتنیو موضوعګانو څخه یوه موضوع وټاکل شوه چې د نومورې موضوع په پام کې نیولو سره د مجلې د ارزښت او رول په باب خپل نظریات په څو مادو کې

راتول او څرګند کړي چې په لاندې ډول دي :

موضوع : مجلهٔ د ماشوم د نوښت او خلاقیت د وسیلې په توګه:

نظرونه : ۱ - د مجلې د لیکنو نوی والی او د بېلا بېلو لیکنو شتوالی د کوچنیانو په ذهن کې د نوو فکرونو د پیدا کېدو او د هغو د ذهني ودې سبب کېږي .

۲ - د مجلې لوستنه په کوچنیانو کې د تجسس (پلټنې) ولولې را پاروي.

۳ - د مجلې لوستل د شیانو او اشخاصو په پېژندنه کې د ماشومانو د لیدنې ځواک پیاوړی کوي.

٤ - مجله ماشومانو ته د لیکلو او لوستلو مهارتونه ورزده کوي چې په نتیجه کې د هغوی د ذهني ودې سبب کېږي .

٥ - له مجلې سره د لوستونکو ملګرتیا او همکاري د هغوی د هڅونې سبب کېږي.

موضوع : مجلهٔ د ماشوم د حقوقو د څرګندولو د وسیلې په توګه :

نظرونه : ۱ - ماشومان د مجلې په لوستلو سره پردې پوهېږي چې له تبعیض پرته د تعلیم حق لري.

۲ - د ژوند حق لري .

۳ - د تفریح ، سوکالۍ او ورزش حق لري.

٤ - د مشرانو د لورښې او د متقابل درناوي حق لري.

٥ - د روغتیا او پالنې حق لري.

٦ - د نظرونو د بیان او څرګندولو حق لري.

۷ - د معلوماتو د لاس ته راوړلو حق لري .

۸ - د پوښتلو حق لري.

۹ - په ټولنیزو چارو کې د ګډون حق لري.

۱۰ - په کورنیو چارو او پربکړو کې د برخې اخیستنې حق لري.

۱۱ - په اجباري ډول تولیدي کارونو ته د نه ګمارل کېدو حق لري.

۱۲ - دنورو د حقوقو په پېژندنه کې له ماشومانو سره مرسته کوي.

۱۳ - په جګړه ییزو چارو کې د نه شاملېدو حق لري.

موضوع : مجلهٔ د سولې غوښتنې او زغم زیاتولو د وسیلې په توګه:

نظرونه : ۱ - مجله کوچنیان د جګړې له زیانونو او مصیبتونو څخه خبروي.

۲ - مجله کوچنیانو ته د ګډ سولې ییز ژوند او انسان پالنې ښېګڼې لارښوونه کوي.

۳ - مجله کوچنیان پوهوي چې د هېواد راتلونکی په دوی پورې اړه لري.

٤ - مجله کوچنیانو ته د ګډ ژوند اړتیا ورښیي .

٥ - مجله د ښځینه او لرې والي ستونزې او زیانونه بیانوي.

٦ - مجله کوچنیانو ته د ازاد تفکر موقع برابروي.

۷ - مجله کوچنیانو ته خپل حقوق ور پېژني.

۸ - مجله کوچنیان دې ته تیاروي چې نور خلک هم ومني او وزغمي .

۹ - مجله ماشومانو ته د سیمه ییزو لوبو په ښوونه کې مرسته کوي.

۱۰ - مجله د خبرو اترو او مفاهمې په واسطه کوچنیانو ته د کورنیو شخړو او مخالفتونو د حل لارې چارې ښیي.

۱۱ - مجله کوچنیان دې ته هڅوي چې له نورو سره له قهر او کینې نه کار وانه خلي.

موضوع : مجله د ماشوم د زده کړې د وسیلې په توګه:

نظرونه : ۱ - مجله د کوچنیانو د درسي نصاب د مرستندوی په توګه کارېدای شي.

۲ - مجله کولای شي چې کوچنی تر ښوونځي مخکې له لیک لوست سره اشنا کړي.

۳ - مجله کولای شي ماشوم لیکلو او لوستلو ته وهڅوي.

٤ - مجله کولای شي د ماشوم د لیکلو او لوستلو استعداد پیاوړی کړي.

٥ - مجله کولای شي په کوچني کې ښوونځي ته د تللو مینه وروزي.

٦ - مجله کولای شي په ماشوم کې د لیکلو او لوستلو جرأت پیدا کړي.

۷ - مجله کولای شي په کوچني کې پر خپل ځان د لوستلو او لیکلو باور پیدا او هغه پیاوړی کړي.

موضوع : مجله د افغانستان د راتلونکي پر مختګ د وسیلې په توګه:

نظرونه : ۱ - مجله کوچنی هڅولای شي چې بهر ته خپل هېواد ته ستون شي.

۲ - مجله کوچنی دې ته هڅولای شي چې په راتلونکي کې د هېواد په آبادۍ او بیا رغونه کې برخه واخلي.

۳ - مجله کوچنی هڅوي چې په راتلونکي کې د ښوونځي په زده کړه کې تینګه او همېشنۍ برخه واخلي.

٤ - د مجلې لوستونکي د خپل هېواد په باب نېه معلومات تر لاسه کولای شي.

٥ - مجله د اختلافونو د کمښت سبب ګرځېدای شي.

٦ - د مجلې لوستونکي کوچنیان د روغتیا په باب معلومات تر لاسه کولای شي.

۷ - مجله د سولې په راوستلو کې مرسته کولای شي .

۸ - مجله د حرفه یي زده کړو د لارښوونې له لارې د هېواد په بیا رغونه کې برخه اخیستلای شي .

۹ - مجله په رسمي او نا رسمي ښوونه او روزنه کې مرسته کولای شي.

۳ - د ماشومانو لپاره د لیکنې ځانګړنې

اروایي اړتیاوې

د ماشومانو لپاره په لیکنه کې د ماشوم طبیعت ، اروا پوهنه او د ماشومانو «نړۍ» تر ټولو لومړی حق لري، ځکه نو د ماشوم پر طبیعت بنسټ پوهېدل ډېر مهم دي. ماشوم څوک دی ؟ څه ځانګړنې لري ؟ د څه شي د اوږدلو ، لوستلو او ویلو هیله لري ؟ دا ډول پوښتنې مور ته هغه ډول لیکنې را په ګوته کوي چې ماشوم یې د لوستلو هیله لري.

اروایي اړتیاوې د ماشوم د پېژندلو په کچې پورې اړه لري. ماشومان د عمر په ټبلا ټبلو پراوونو کې ډول ډول لېوالتیاوې لري. دا مسایل باید د ماشوم لپاره په لیکنو ، په تېره بیا په رسمي لیکنو کې په پام کې ونیول شي. په داسې حال کې چې په مرستندویو او نا رسمي درسي موادو کې زیاته ازادي شته . افغاني ماشومانو لپاره باید په لیکنه کې د ماشوم ذهني چاپېریال بنسټ درک او بیا منعکس شي. د ټبلګې په توګه د خپلوانو له لاسه ورکول، له فرهنګي چاپېریال څخه لرې پاتې کېدل ، د هېواد دننه بې ځایه کېدل ،مهاجرت او نور په لیکنه کې راوړل شي. لیکوال دې نه یوازې د لیکنې محتوا ، بلکې د لیکنې پیغام هم په پام کې ولري. دغه پیغامونه باید په لوستونکو کې داسې باور او سمون پیدا کړي چې د ژوند د دوام لپاره د شخړو په غوڅولو کې له دوی سره مرسته وکړي. لیکوال باید د خپل مخاطب په باب وپوهېږي. دا مسئله د ټبلا ټبلو ټولګیو د ماشومانو لپاره د رسمي درسي موادو په برابرولو کې ډېره مهمه ده.

د فکر او دلیل د پیاوړتیا لپاره د ژبې پر اهمیت پوهېدل هم ضروري دي. د فکر او پوهولو لپاره پر ژبه واکمني ډېره مهمه ده . ژبه یوه داسې وسیله ده چې همکاري را منځ ته اوپیاوړې کوي او د یو شخص د فکر د پراختیا سبب ګرځي ،تر دې چې د یو شخص ذهني ژوند د یوې ډلې د ذهني ژوند پر یوې برخې بدلوي. کله چې ماشومان ژبه زده کړي دوی نه یوازې دا چې عکس العملونه زده کوي ، بلکې مفکورې هم را اخلي او بیا یې وراندې کوي ، دوی د نورو تجربې د خپل ذهني ژوند پر یوې برخې بدلوي، کله چې دوی خبرې کوي نور دېته اړ باسي چې خپلې تجربې ور سره شریکې کړي. لوستنه یا مطالعه د فکر کولو او پوهولو اړتیا وړ لغوي زېرمه زیاتوي.

ذکاوت پر یوې موضع باندې د پوهېدلو یو اساسي

توکی دی . له کلمو څخه د مانا اخیستل او کلمو ته مانا ښښل د اشخاصو په ذهني تیاري پورې اړه لري، چې دا خبره په خپله د اشخاصو ذکاوت څرګندوي. کورنی چاپېریال یو بل فکتور دی چې د فکر او پوهولو لړۍ اسانه کوي او یا یې ځنډوي.

دا مسئله د افغاني ماشومانو لپاره د لوست موادو په برابرولو کې ډېر زیات ارزښت لري.

بل مهم فکتور د یو شخص د ذهني کچې او بیان تر منځ اړیکي دي. د هغو اشخاصو لپاره چې ذهني اخیستنه یې ورو ده د لوست درسي مواد باید په ساده ، اسانه او عام فهمه توګه وليکل شي. د افغاني ماشومانو لپاره لیکنه کې دا یو مهم توکی دی چې باید په پام کې ونیول شي ، ځکه چې د ماشومانو لپاره وینا اروا یي اغېزلري، د ښلګې په توګه د ویړې حالت ، د ولولو ګډوډول او ناڅاپي شوک د وینا پر جوړښت اغېز کوي.

لوستل او د استعدادونو وده د زده کړې یو بل مهم فکتور دی . لوستونکي باید د لوستلو پر تخنیک او د لیکنې د وړاندې کولو پرځرنګوالي پوره وپوهېږي. دغه ځواکمني باید له لومړي سره پیل او تر پایه دوام ومومي. د لوست د غوښتل شویو استعدادونو د ترلاسه کولو لپاره اړتیا ده چې لیکوال پر دې وپوهېږي چې د لوست مواد په کومه بڼه وړاندې شي ؟ د زده کوونکو د تیاري کچه څومره ده ؟ پر لیکل شویو سمبولونو څومره پوهېږي؟ د ترکیبي لغتونو د تشخیص ځواک یې څومره دی؟

او د جملو او نومونو (اصطلاحاتو) پر جوړښت څومره پوهېږي او داسې نور...

لیکوال باید د افغاني ماشومانو لپاره د لیکلو په خاطر پر پورتنیو مسایلو بڼه وپوهېږي.

ټولنیزې او فرهنګي اړتیاوې

د ماشومانو لپاره د مرستندویو درسي موادو په برابرولو کې پر مسایلو باندې د پوهېدلو د اسانۍ لپاره باید ټولنیز فکتورونه تشخیص شي ، کوم چې مواد د پېژندل شوي چاپېریال او فرهنګي شالید (پس منظر) پر بنسټ ولیکل شي د ماشوم لپاره د ژوند او ژباتې لوستنې ته یې هڅوي. له لوستلو سره د لهوالتیا رامنځته کول یو مهم توکی دی ، البته د عصري او پوهنیزو مسایلو په باب معلومات هم مساوي ارزښت لري، چې ماشوم د اوسني چاپېریال تر څنګ د راتلونکي په باب هم فکر کولای شي او پر هغه د پوهېدنې ځواک یې وده کوي. که

څه هم داسې مواد د تخليقي ليکنې په چوکاټ کې نه راځي خو بيا هم د يوې مجلې په محتوياتو کې داسې مسايلو ته د کيسو او نورو ليکنو په ښه ځای ورکول کېدای شي. دا کار له ماشوم سره د لوست د نورو مطالبو په پلټنه او نورو پوهنيزو معلوماتو په لاس ته راوړنه کې مرسته کوي. د ماشومانو لپاره د ليکنې بنسټيز هدف بايد له لوست سره د لېواتيا رامنځته کول وي چې دا کار ماشومانو ته د پوهنې نړۍ ته د ورننوتو ځواک وربښي. هغه څه چې ماشوم لولي بايد د راتلونکې لېوالتيا لپاره يې بنسټ شي. د دوولسيزو جګړو او ورانۍ او د هغو په نتيجه کې د ټولنيز ژوند ويجاړتيا، مهاجرت، د ارزښتونو له لاسه ورکول، د فرهنګي هويت کمزوري کېدل او داسې نور بايد د ليکنې د موضوعاتو په توګه وټاکل شي.

عامه اړتياوې

دا اړتياوې په هغو مسايلو پورې اړه لري چې ماشوم بايد په ننۍ نړۍ کې پرې وپوهېږي. دا مسايل ماشوم ته دا ځواک وربښي چې د اوسنيو حالاتو او په ساينس، تخنيکپوهنې او ټولنيزو اړيکو کې د راتلونکو بدلونونو تر منځ اړيکي پيدا کړي. دا ټول له ماشوم سره مرسته کوي چې د راتلونکې کې نړۍ د يو کارنده غړي په توګه وده وکړي. په داسې حال کې چې د سيمې ييز فرهنګ پر شالید باندې بايد وپوهېږو، دا مو بايد په پام کې وي چې ماشوم بايد د نويو پرمختيا وو او اړوندو چلينجونو په ښه راتلونکې مفکورې له لاسه ورنه کړي. ځکه نو پوهنيز مسايل د ماشوم په ځواکمنې کې مهم رول تر سره کوي چې د راتلونکي په باب فکر وکړي او داسې پوهې تل ته وده ورکړي چې د زياتو معلوماتو د لټون لپاره د انګېزې بنسټ وي.

دموادو د وړاندې کولو څانګړنې

په دې برخه کې د بحث وړ څانګړنې لوستونکو ته د رسمي او مرستندویو درسي موادو د وړاندې کولو په بڼې پورې اړه لري. لوستونکي د لیکنو ازرښت تاکي ،لیکوال باید داتوکي چې د مـوادولـه جـوړښت، وړاندې کـولو، لغوي زېرمې، انځورونو، پیغامونو ، د جملواوړدالي ، د کلمو شمېر ، او هغو استعدادونو څخه چې وده باید ومومي عبارت دي په پام کې وساتي.

محتویات

مـاشـوم باید د زیاتو معلوماتو په وړاندې کولو سره مغشوش نه شي ، د محتویاتو تسلسل باید د مشرانو له مرستې پرته په اسانۍ د تعقیب وړ وي . د لوست په بهیر کې لارښوونې دماشوم ذهن ګډوډي ان تر دې چې غلطې پایلې ته یې رسوي.

جوړښت

د یوې مشخصې کیسې یا لیکنې لپاره د تورو اندازه ، د کلمو تر منځ واټن، د کلمو تکرار ، د نویو کلمو زیاتوالي او د کلمو ټول شمېر ته جوړښت وایي .

د لیکو (پراګرافونو) جوړښت، انځورونه او طرحې د پاملرنې وړ نور مسایل دي. د لیکنې یا کتاب اندازه او لویوالی د دغه تمرین برخه جوړوي . دا ټول باید په لیکنه کې څرګند شي. البته دا مسایل د ماشومانو له عمر سره اړیکي لري، یاني د عمر په بدلون سره زیاتېدای شي . د جملې او یا خپرونې پېښتي باید په ډېر فکر سره جوړه او د خپرونې لپاره یوپه زړه پورې پیل وګټل شي. د کیسې ، شعر او یا معلوماتو په څېر دمرستندویو درسي موادو د وړاندې کولو میتود باید ساده وي ، له معلوم څخه مجهول ته او له ساده و څخه پېچلو مسایلو ته د تګ اصول تعقیب کړي. د انځورونو ، طرحو او رسمونو شمېر باید د مخاطې ډلې له عمر سره سمون وخوري، شمېر یې باید د هغو د عمر په تناسب کم شي . دا شیان باید ښه برابر شوي وي چې په متن کې د تشریح شویو مسایلو درست انځور وکاږي.

تصویرونه

لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه دا یو مهم توکی دی ، تصویرونه کېدای شي د موادو د برابرلو لپاره د شتو مادي امکاناتو له لارې برابر شي . په هر ډول تصویرونه باید ښه وکارول شي او په کیسه کې د تشریح شویو کرکترونو روښانه انځور وړاندې کړي چې لوستونکو ته په ښه توګه پیغامونه ورسوي.

لغوي زېرمه

د لوست له بنسټیزو هدفونو څخه یو هم د لوستونکو د لغوي زېرمې زیاتونه او د هغوی د افادې ځواکمني ده . دغه هدف په کراره کراره او عادي توګه تر لاسه کېدای شي. لیکوال باید تر لیکنې د مخه د نویو لغتونو شمېر په پام کې ونیسي. نوي لغتونه باید په لیکنه تکرار شي چې ماشوم د هغو په مانا پوه شي او استعمال یې کړي خو د نویو کلمو لتون او د هغو کارول باید د لیکوال اساسي هدف نه وي ، د لیکنې محتوا باید په منطقي او اغېزمن ډول ترتیب شي . د هغو لیکنو په پرتله چې هدف یې له لوستلو سره د لهوالتیا را منځته کول دي ، د رسمي لیکنو په برخه کې د غه لړۍ بدلون مومي. که لیکنه یو شعر وي نو باید کلمې اهنګیني وي چې ماشومان یې په اسانۍ سره تکرار کړي او خوند ترې واخلي.

پیغامونه

پر دې مسئلې باندې په دوديزو کیسو کې ډېر ټینګار شوی دی. د کیسو په پای کې باید ماشوم په خپل چال چلند او کړو وړو کې د مثبت بدلون راوستو د ودې ځواک پیدا کړي . که داسې نه وي نو یوه تشه به را منځته شي.

لوستونکي دې د لیکنې پر محتوا باندې پر فکر کولو مجبور وکړای شي او له زیاتې لوستنې ،له نورو سره مرستې ، رښتینولۍ ، مهربانۍ او له پاملرنې کولو سره دې عادت او روږدی کړي. دغه مسله د سیالیو او هلو ځلو په یوه نړۍ کې زیات اهمیت لري.

مهارتونه

پر زیاتو لغتونو او په ننني او راتلونکي نړۍ کې پر پېښېدونکو بدلونو پوهېدل ارزښتمن مهارتونه دي. لیکنه باید لوستونکي له نویو بدلونو سره اشنا کړي چې په راتلونکو لسیزو کې د نورو مهارتونو د ودې په کار کې له لوستونکي سره مرسته وکړي. دا اصل باید په تېره بیا په علمي لیکنو کې په پام کې ونیول شي. ماشوم باید له شتو سیمه ییزو سر چینو څخه په ګټې اخیستنې سره د بنسټیزو علمي اصولو تجربو ته وهڅول شي. لیکنه یوه لړۍ ده چې نورو ته د ماشوم د مفکورو او ولولو د بیان لارې چارې برابروي. په لیکنه کې لاندیني کیفیتونه په پام کې نیول کېدای شي ،دغه توکي له لیکوال سره مرسته کوي چې د لوستونکو په باب وپوهېږي او خپله لیکنه اغېزناکه کړي.

۱ - لیکنه یوه لړۍ ده چې احساسات راپاروي.

۲ - لیکنه یوه منجمد شوې ژبه ده چې د بیانیو په شان له منځه نه ځي .

۳ - لیکنه په آسانۍ سره ارزول کېدای شي او د تشخیص لپاره یوه ګټوره وسیله ده .

٤ - لیکنه په ټولنیز کنټرول او ټولنیزې انجنیرۍ پورې اړه پیدا کوي.

٥ - لیکنه په هنري ، حرفه یي ، تخلیقي او قضایي (قضاوتي) مسایلو پورې اړه پیدا کوي .

٦- د لیکنې لړۍ د تدریس او زده کړې له لارې تر ښوونځي نه له مخکې زمانې څخه د ژوندانه تر پایه پورې دوام کوي .

۷ - لیکنه پخواني مضامین او نوې تکنالوژي سره اشنا کوي- په دې وسیله د تېرو وختونو په پرتله په اوسنۍ زمانه کې د زیاتو معلوماتو د لاس ته راوړلو سبب ګرځي .

تخليقي ليکنه

ميتود - بحثونه - انفرادي او گروپي کار

- تخليقي ليکنه د ليکنې يوه فرعي برخه ده .

- په ښوونځيو کې د درسي نصاب په پرتله په تخليقي ليکنه کې فشار لږ دی

- په تخليقي ليکنه کې تدريسي ستونزې موجودې وي.

٤ - د دې لپاره چې ليکوال مستقل کار وکړي، پر موضوعاتو وپوهيږي او خپله پر ځان انتقاد وکړي نو لاندې معيارونه دې په پام کې ونيسي:

- تدريس ، ليکواله ډله دې د لوستونکو په توګه نقد وکړي او انتقاد دې واوري.

- د ليکوالو د ليکنې بڼې تشخيص او پېژندنه .

- د ليکنې بڼه ، مفهوم ، د هغو موادو بيا ليکنه چې په اوسنۍ بڼه ليکل شوي دي ، مختلفې بڼې (ستايلونه) .

(که مواد موجود نه وي ، ګډون کوونکي دې لنډې کيسې وليکي او له خپلو ملګرو سره دې د نظريو د راټولولو لپاره پرې بحث وکړي.

- په ليکنه کې بدلون، لکه په حال ، ماضي او راتلونکې زمانه کې ليکنه ، د متکلم او غايب شخص په باب ليکنې د حسادت ، وېرې او خواخوږۍ په شان د احساساتو څرګندونکې ليکنې .

- برخوال دې يو مضمون ولولي او د هغه د نتيجې او تاثيراتو په باب دې خپل نظرونه وړاندې کړي او يا دې وړاندېزونه او تغييرات وړاندې کړي .

- نورې برخې لکه خبرې اترې ، ډرامې ، پيغامونه او داسې نور دې د اعلانونو په توګه وکارول شي .

انفرادي او ډله ييزکار

- په دې برخه کې برخوالو ته لاربښوونه وشوه چې دوی دې له تاریخ او یا خوښونو څخه د موادو تخلیقول ، له تصویرونو څخه د کیسو را منځ ته کول ، د ګډون کوونکو خپلې تجربې د کیسو او ډرامو په بڼه او همدارنګه د هیوادنیو لهوالتیاوو پر بنسټ لیکل په نظر کې ونیسي.

- اړوند مواد ، عکسونه او مقالې

- له مسلکي لیکوالانو سره مباحثې . . . ماشومانو ، ژورنالیستانو ټولو ټولنو عامو خلکو (مهاجرینو ، ښځو ستنېدونکو ، کوربه و او . . .) ته غوږ نیول .

- د مهاجرینو او ښځو ستنېدونکو ماشومانو په منځ کې د تخلیقي لیکنې تشویق او ترغیب .

٤ - افغاني مسايل د مجلې د محتوياتو په توګه

څرنګه چې افغانستان ته په وروستيو کلونو کې زيات زيانونه رسول شوي دي نو لازمه وګڼل شوه چې ليکوال دې په خپلو ليکنو کې د هېواد بنسټيز مسايل او ستونزې انعکاس کړي. دا کار به ليکوال په دې بريالی کړي هغه مسايل په پام کې ولري چې لوستونکي د هېواد د بيا رغونې، هلته د کار کولو او له غميزو څخه د خلکو د ژغورلو فکر ته وهڅوي. ځينې بنسټيز مسايل چې په دغه تمرين کې په ګوته شول په لاندې ډول راوړل کېږي.

افغاني مسايل د مجلې د محتوياتو په توګه

په دې برخه کې هغه مسايل، ستونزې او پېښې چې افغانان ورسره اوس مخامخ دي، وڅېړل شول او له دې جملې څخه پر لاندې موضوعګانو بحث وشو :

١ - د خلکو خوځون او لېږد.

٢ - د محرومیتونو څومره والی او څرنګوالی.

٣ - ټولنيز اړيکي.

٤ - د هجرت په چاپېريال کې د نفوس زياتوالی.

٥- د زده کړې د فرهنګ لړوالی او نشتوالی.

٦ - ژوندي موجودات (حيوانات - او نباتات) چاپېريال.

٧ - د کوکنارو کښت.

٨ - زغم او تحمل.

٩ - فرهنګي ميراثونه.

١٠ - ارمان يا هدف.

مسايل د ليکنې د مواد و په توګه.

په دې برخه کې د ورکشاپ برخوال پر پنځو ډلو ووېشل شول او هرې ډلې ته له پورتنيو مسايلو څخه دوه مسالې ورکړ شوې چې پر هغوی غور وکړي او خپل نظرونه پرې څرګند کړي.

د دويمې برخې ډله ييز کار نتيجه په لاندې ډول ده :

لومړی ډله

الف: د خلکو خوځون او لیږد

ب: د محرومیتونو څومره والی او څرنګوالی

نظرونه:

۱ – د منقولې او نا منقولې شتمنۍ او کورونو له لاسه ورکول .

۲ – د اقتصادي او ټولنیز ژوند د دودیز جوړښت له لاسه ورکول .

۳ – د کسب او کار او ټولنیز دریځ له لاسه ورکول.

٤ – د ځاني او ټولنیزې پېژندنې له لاسه ورکول.

٥ – د څومره والی او څرنګوالي له پلوه د ښوونې او روزنې له ښېګڼو نه بې برخې کېدل .

٦ – له مدني حقوقو څخه بې برخې کېدل.

۷ – له روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې کېدل.

۸ – له فرهنګي خیر ښېګڼو څخه بې برخې کېدل.

۹ – د هېوادنیو او قومي اړیکو ګډوډېدل.

۱۰ – د ځاني او مالي زیانونو زغمل.

۱۱ – له نوي چاپېریال سره توافق نه کول.

۱۲ – اقتصادي پیوستون.

۱۳ - په ځینو برخو کې له سیاسي حقوقو څخه د کوچنیانو بې برخې کېدل.

۱٤ - د کورنیو کمزوري کېدل، د کونډو او یتیمانو زیاتېدل او له ستونزو سره مخامخېدل.

۱۵ - اخلاقي انحراف او د کورنیو د اخلاقو ګډوډېدل.

دویمه ډله

الف: ټولنیز اړیکي

نظرونه :

۱ - تنظیمي او سیاسي اختلافونو ته لمن وهل.

۲ - د قومونو او قبایلو تر منځ د قومي اختلافونو زیاتېدل.

۳ - په کوربه هېواد کې د ځینو بندیزونو لګېدل.

٤ - له ټولو ډلو سره د کوربه هېواد دچلند بېلوالی.

۵ - د کورنیو او ورځنیو ستونزو زیاتېدل.

٦ - د کورنیو اړیکو شلېدل.

۷ - د دوستانو، خپلو اوخپلوانو تر منځ د اړیکو کمزوري کېدل او شلېدل.

ب :د هجرت په چاپېریال کې د نفوسو زیاتوالی

نظرونه:

۱ - د زیاتېدونکې لورې او وزګارتیا له کبله نا قانونه کارونو ته لاس اچول.

۲ - ښوونې او روزنې ته پوره پاملرنه نه کول.

۳ - د روغتیایي ستونزو زیاتېدل.

٤ - د اړتیا وړ موادو د بیو لوړېدل.

٥ - د چاپېریال ککړېدل.

٦ - د ملګرو ملتو لپاره د ستونزو زیاتېدل.

۷ - د کورنیو د اقتصادي ستونزو زیاتېدل.

درېیمه ډله

الف : د زده کړې د فرهنګ لږوالی او نشتوالی

نظرونه :

۱ - د اقتصادي ستونزو شتوالی.

۲ - د زده کړې د اهمیت نشتوالی.

۳ - د ټولنیزو بندیزونو شتوالی.

٤ - د مذهبي بندیزونو شتوالی.

٥ - د سیمه ییزو لوبو (ورزش) له منځه تلل .

٦ - په تدریجي ډول د مورنۍ ژبې له منځه تلل.

۷ - د ټولنې د دودونو له منځه تلل.

۸ - د زده کړې او د هغې د امکاناتو کموالی.

ب: ژوندی موجودات (حیوانات او نباتات) ،چاپېریال

لومړی : د نباتاتو په باب د نباتاتو د له منځه وړلو له کبله :

نظرونه :

۱ - د چاپېریال د هوا خرابېدل.

۲ - د سېلابونو زیاتېدل.

۳ - د اورښتونو کمېدل.

٤ - د طبیعت د ښکلا له منځه تلل.

٥ - پر روغتیا باندې ناوړه اغېزه کول.

٦ - د ناپاکیو زیاتېدل.

دویم : (د حیواناتو په باب) د حیواناتو له منځه وړل لاندې ستونزې را منځته کوي:

۱ - اقتصادي ستونزې.

۲ - روغتیایي ستونزې.

څلورمه ډله

الف : د کوکنارو کښت

نظرونه:

۱ - اوسنی ټولنیز بحران ، د ملي او سیاسي واحد مرکز نشتوالی ، د اقتصادي وضعې ګډوډي او داسې نور عوامل د کوکنارو د کښت سبب کېږي .

۲ - د کوکنارو کښت او د مخدره موادو تولید او کارول پر اخلاقي ، ټولنیزو او فرهنګي بنسټونو اغېز کوي.

۳ - د مخدره موادو کارول د انسان پر مغزو فکر او احساس اغېزه کوي او د نیستۍ کندې ته یې ټېل کوهي چې په نتیجه کې یې ژوند ته د پای ټکی ږدي.

٤ - د مخدره مواد کارول او اعتیاد د غلا ، اختطاف، فحشا ، وینې او غارت په شان د ګڼو جرمونو سبب کېږي.

٥ - د مخدره موادو له تولید او قاچاق څخه نړیوال زیانونه او شخړې رامنځته کېږي .

ب : زغم او تحمل

نظرونه :

۱ - جګړې د ټولنیزو اړیکو د شلېدو سبب ګرځي.

۲ - مادي مسایلو ته پاملرنه د معنوي مسایلو د هېرولو سبب کېږي او د نه منلو روحیه پیاوړې کوي .

۳ - جګړه د ځان غوښتنې جاهلانه احساس پیاوړی کوي او خلک له اسلامي احکامو لرې کوي.

٤ - په هېواد کې د پردیو لاسوهنې او له مشخصو ډلو پلوي په خلکو کې د زغم روحیه کمزورې کېږي ده .

٥ - د ژبنیو ، قبیله یي او سیمه ییزو تبعیضونو زیاتوالی او وده د یو ملي ضد حرکت په توګه د اخلاقي او معنوي معیارونو د له منځه وړلو سبب شوي دي .

د حل لارې چارې :

۱ - د انساني عواطفو پیاوړتیا .

۲ - د همکارۍ او خواخوږۍ د روحیې رامنځته کول.

۳ - د دوستۍ او خپلوۍ د اړیکو تینګول او وده.

٤ - د ښلابښلو دودونو او عنعنو پېژندنه.

۵ - د یو بل د حقوقو پېژندل.

٦ - د نورو پرېشاني او مصیبت د خپل ځان ګڼل لکه شیخ سعدي صاحب چې وایي :

بنی آدم اعضای یکدیگر اند که در افرینش ز یک جوهر اند

چو عضوی به درد آورد روزګار دګر عضوها را نماند قرار

۷ - د خلکو معنوي روزنه.

پنځمه ډله

موضوع : فرهنګي میراثونه

نظرونه :

۱ - افغانستان د بېلا بېلو مدنیتونو او فرهنګونو مرکز دی ، نو ځکه د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو د توجه مرکز ګرځېدلی دی .

۲ - د افغانستان د فرهنګي اثارو د بېرته ګرځولو ستونزې.

۳ - د فرهنګي میراثونو او اثارو د ساتلو ستونزې.

٤ - افغانستان د نړۍ د فرهنګي میراثونو او په تېره بیا د ګاونډیو هېوادونو د فرهنګ په بډاینه کې برخه اخیستې ، نو ځکه هغوی د افغانستان د اثارو د لوټ او تالان له کبله پریشان دي.

۵ - په افغانستان کې د اختلافونو یو عامل هم فرهنګي تضاد بلل کېږي.

٦ - له مذهب نه یو ډول ځانګړی تعبیر او په افراطي ډول پر خپلو نظرونو ټینګار هم د فرهنګ د ودې مخه نیولې ده .

۷ - مهاجرت او په مختلفو هېوادونو کې د افغانانو مېشته کېدل هم د دې سبب شوي چې زمور فرهنګ او ژبو ته زیان واړوي.

۸ - د فرهنګي اثارو پر ارزښت د پوهېدنې نشتوالی او دهغو د ساتنې په اړه بې تفاوتي.

ب :د هدف او ارمان نشتوالی.

نظرونه :

۱ - اوسنیو حالاتو زمور د خلکو پر ذهن ناوړه اغېزه کړې ده ، د راتلونکي هدف او ارمان په باب مغشوش دي.

۲ - د مهاجرت له کبله افغانان په مختلفو هېوادو کې مېشته شوي دي او د یو مشترک ارمان لپاره راټولېدل ورته ګران دي.

۳ - سیاسي ، مذهبي او نورو عقایدو هم خلک له ذهني پلوه سره ویشلي دي ، یو عمومي توافق ته رسېدل ورته ستونزمن دي.

٤ - د لوړ سیاسي کلتور نشتوالي هم یو ارمان او هدف ته رسېدل ګران کړي دي.

بیا د ورکشاپ چلوونکي له خوا برخوالو ته د آزادې او محدودې لیکنې (Free and Focused writ-ing) په باب لیکنې د سرچینو موندلو په اړه لارښوونې وشوې :

چلوونکي زیاته کړه چې د ورکشاپ ګډون کوونکي به پر ټولو ډلو ووېشل شي چې د کوچنیانو په باب د خپلې خوښې پر یوې موضوع باندې یوه لیکنه وکړي ، وروسته به د دوی لیکنې د لاندنیو فرضي معیارونو په رڼا کې وارزول شي :

معیارونه :

۱ - لیکنه دې باید د ماشوم لپاره لیکل شوې وي.

۲ - د لیکنې موضوع دې ښه انتخاب شوې او واضیح وي.

۳ - د لیکنې ژبه دې د موضوع او ماشوم لپاره مناسبه وي.

٤ - د لیکنې مواد دې په موضوع پورې اړه ولري.

٥ - کلمې دې په لیکنه کې ښې انتخاب شوې وي.

٦ - د پیغامونو بنه دې مناسبه وي.

۷ - دا باید واضح وي چې په لوستونکو کې د کوم چلند د بدلولو هدف لرئ.

۸ - ژبه دې واضیح وي .

۹ - لیکنه دې الهام بښونکې وي.

۱۰ - دا خبره دې واضح وي چې لیکنه به څه اغېزه ولري.

۱۱ - لیکنه دې د ماشوم لپاره په دوستانه توګه لیکل شوې وي.

۱۲ - آیا لیکنه د راتلونکې مطالعې لپاره لېوالتیا را منځته کوي او که نه ؟

۱۳ - آیا لیکنه د وخت ضایع کوونکې ده که معلوماتي (Inotrumental) او په زړه پوری.

د ورکشاپ برخوال بیا پر پنځو ډلو ووېشل شول چې د ماشومانو لپاره په خپله خوښه یوه موضوع غوره کړي او پر هغې لیکنه وکړي .

۵ - د ساحوي کار لپاره لارښوونې

د سرچینو پېژندنه

لاندې لارښونې به د تخلیقي لیکنې په برخه کې د سرچینو د تشخیص کار اسانه کړي. د دغو لارښوونو په رنا کې برخوالو د یوه ښوونځي لیدنه کتنه وکړه او څلور ساعته یې له زده کوونکو او ښوونکو سره کار وکړ. زده کوونکي دېته وهڅول شول چې په ازاده توګه د خپلې خوښې موضاعګانو په باب څه ولیکي . برخوال په دغه بهیر کې په دې بریالي شول چې یوزیات شمېر لیکنې د کیسو ، شعرونو ، ټوکو ، پوښتنو او داسې نورو لیکنو په بڼه راتولې کړي. طرحې او رسمونه هم په دغو موادو کې شامل وو . برخوالو د ټولنې له یو شمېر مشرانو سره هم وکتل ، دغو مشرانو د ماشومانو لپاره د لوست د موادو اړتیا څرګنده کړه.

بنسټیز ګامونه

لومړی ګام:

- له خپلې ډلې (ماشومانو) سره دوستي او ملګرتیا جوړه کړئ !
- خپل هدف هغوی ته په لنډه او دقیقه توګه څرګند کړئ!
- د هغوی باور جلب کړئ !

دویم گام:

- د ډلې یا کوچنیانو تجربې ځانته معلومې کړئ !

- د هغوی د علاقې وړ موضوعګانو په باب معلومات پیدا کړئ!

- د هغوی د علاقې وړ لیکلو او لوستلو په باب چې دوی څه شی غواړي ولولي او ولیکي ،معلومات پیدا کړئ!

دریم گام:

- پر ځینو موضوعګانو باندې چې د ماشومانو پر ښو او بدو تجربو بناوي ، بحث وکړئ!

- له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې دوی په انفرادي ډول په خپله خوښه د لیکلو لپاره یوه موضوع وټاکي.

(هغه څه چې دوی خوب لیدلی ، د دوی شخصي تجربې ، هغه څه چې د دوی د مشاهداتو په باب وي ، د دوی د هیلو په باب او یا په دې باب چې که دوی له غم ، درد او نورو مسایلو څخه اغېز من شوي وي او یا دا چې دوی تر کوم فشار لاندې وي ، او داسې نور مسایل ، د موضوع په توګه غوره کولای شئ)

څلورم گام:

- ماشومانو ته قلم او کاغذ ورکړئ!

- له هغوی څخه وغواړئ چې کیسه ، ډرامه او یا شعر ولیکي او یا هم چاپېریال ، خپلو هیلو او داسې نورو مسایلو په باب څه ولیکي او یا هم خپل هېواد ته د ستنېدو په اړه یو څه رسم کړي!

پنځم گام:

- د هېواد په باب د هغوی پر مسوولیتونو رڼا واچوئ!

د هغوی له کارونو خوښي څرګنده کړئ او مننه تري وکړئ !

٦ - د مجلې د شننې (تحلیل) لارښوونې

د یوې مجلې د ودې لپاره د ارزونې اړوند استعداد په کار دی. د ارزونې لړۍ د یوې مجلې د محتوا د انځور په روښانه کولو کې مرسته کوي ، یانې دا چې له لیکوال سره مرسته کوي چې د مجلې محتویات په داسې بڼه ترتیب او وړاندې کړي چې لوستلو ته یې لېوالتیا پیدا شي او هم د بېرته ستنېدنې او د افغانستان د ودې اړوند هدفونه تر لاسه شي.

معیار	د مجلې ارزونه			د بدلون لپاره وړاندیزونه
	بڼه	د قناعت وړ	د سمون وړ	
ژبه				
محتویات				
د بېلا بېلو موضوعاتو رانغاړل - ښوونه او روزنه - ورزش - فرهنګ - مذهب				
پیغامونه : مثبت ، منفي				
د بېرته ستنېدنې انګېزه				
د مجلې اوډنه (انتظام) - طرح - د مجلې بڼه - عکسونه				
د مجلې د لوستونکو د استعداد ونو رغونه د ژوندانه استعداد ، روغتیا ، له ماین څخه خبرتیا او نور				
Ethics/Morals				
سوله او زغم				
د ماشومانو حقوق				
د میندو حقوق				
ټولنیزو ارزښتونو ته پاملرنه				
پرځان د باور وده				

د ورکشاپ طرح

هدفونه

الف : عمومي هدفونه : ۱ - د افغانستان د بیارغونې لپاره د افغانانو د ځواک زیاتول .

۲ - د افغانستان له بډایه فرهنګي میراثونه څخه د افغانانو خبرول.

۳ - د افغانستان په خلکو کې د سولې او زغم د فرهنګ پیاوړتیا .

ب : کیفي هدفونه :

٤ - د افغانستان په راتلونکې وده کې د ساینس او تخنیکپوهنې پر اهمیت ټینګار کول.

٥ - د معلوماتو د شریکولو له بهیر سره مرسته .

٦ - د ژوند په ځرنګوالي پورې د اړوندو استعدادونو د لوستنې د فرهنګ وده .

ج : رغاونیز هدفونه:

۷ - د یوې مجلې په طرح او وده کې د پورتنیو هدفونو ځایول.

۸ - د ماشومانو له منځه د یوې لیکوالې ډلې روزل چې له مجلې سره همکاري وکړي.

د : د ورکشاپ هدفونه:

۱ - د موادو په طرح او وړاندې کولو کې داستعدادونو بشپړتیا .

۲ - د سرچینو د تشخیص او همکارۍ په برخه کې د استعدادونو روزنه .

۳ - د موضوعاتو په غوره کولو کې د ظرفیتونو روزل او له ماشومانو څخه د موادو د تشخیص د لارو چارو وده .

دغه هدفونه د معارف مجلې د کره کوونکو له اوسنیو موخو سره چې د پاکستان لپاره د UNHCR د اداري له خوا وړاندې شوي سمون خوري.

دورکشاپ د پاملرنې بنستيزې ساحې

ديوې خپرونې په جوړولوکې بايد ليکوال او کره کوونکي د ليکنو ظرفيت او تخليقي اړخونه د واړه په پام کې ونيسي.

لومړی برخه

- د پېژندګلوی برخه

- ولې يوه مجله؟

- افغاني مسايل

دويمه برخه

- د ليکنې اصول / تخليقي ليکنه / بنستيزې کلمې / تعريفونه / معلومات.

- د لوبو ليکل

- ليکنو لپاره دموادو پيدا کول.

- د ساينس او تخنيکپوهنې / فرهنګ / زغم په اړه مواد.

- د ليکنې صنعت.

- په ليکنه کې اساسي خبرې، ګرامر او داسې نور...

دريمه برخه

د ساحه يي عملي کارونه:

- د مجلې لپاره د سر چينو د تشخيص ميتودونه.

- د بڼوونځيو او کمپونو ليدنه.

- د ټولنې د غړو ، سپين ږيرو او روښنفکرانو ليدنه .

- د مجلو لوستنه او کره کتنه.

- د کره کتنې لپاره د يو جدول جوړول .

څلورمه برخه

د بيلگه ييزو مجلو جوړول:

- د موضوعاتو تشخيص.

- د رسمونو او هنري کارونو وده.

- د سر مقالو ليکل.

- د موادو اندول.

يادونه:

د پښتو او دري ژبو د گرامر او همدا راز د طرحې، رسامۍ او خطاطۍ په برخه کې ماهرين افغانان وو.

د ورکشاپ عمومي پروګرام

د ورکشاپ نېټه : ۱۹- ۲۵ - جولی ۱۹۹۹ .

ځای : کانټيننټال ګسټ هاوس ، پېښور .

برخه اخيستونکي : د مهاجرينو د اداري استازي ، د معارف مجلې او نور افغاني مطبوعاتي کارکوونکي ، ليکوالان او ژورنالیستان .

د ورکشاپ جوړونکی : په پاکستان کې ، د مهاجرينو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره .

مالي او تخنيکي مرستندوی : په افغانستان کې د مهاجرو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره .

د ورکشاپ کړنلاره

بحث ، ډله ييز او انفرادي کارونه ، يادښتونه ، د موجود موادو تحليل او ارزونه ، وړانديزونه ، ساحوي کار او د مجلو د انکشاف لارې چارې.

د ورکشاپ ورځنی پروګرام

لومړی برخه

لومړی ورځ د ۱۹۹۹ د جولای ۱۹

۹:۰۰ - ۱۰:۰۰ : د ورکشاپ د برخه اخيستونکو پېژندنه

۱۰:۰۰ - ۱۰:۳۰ : ځنډ

۱۰:۳۰ - ۱۲:۳۰ : د کوچنيانو لپاره د يوې مجلې اړتيا ، مباحثه

ډاکټر ایکانایکې

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ۳:۳۰ :افغاني مسائل

۳:۳۰ - ۳:٤٥ : ځنډ

۳:٤٥ - ٤:۳۰ : لیکنه ، له مسائلو نه په ګټې اخیستو سره.د

دویمه برخه

دویمه ورځ د ۱۹۹۹ د جولای ۲۰

۸:۳۰ - ۱۰:۳۰ :د لیکنې مفاهیم(Concepts)

ډاکټر ایکانایکې

۱۰:۳۰ - ۱۰:٤٥ :ځنډ

۱۰:٤٥ - ۱۲:۳۰ :د لوبو لیکل

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ۳:۳۰ :د لیکنې لپاره د موادو رامنځته کول

۳:۳۰ - ۳:٤٥ : ځنډ

۳:٤٥ - ٤:۳۰ :د تېرې برخې دوام .

درېیمه ورځ د ۱۹۹۹ د جولای ۲۱

۸:۳۰ - ۱۰:۳۰ : په لیکنه کې بنسټیز مسایل (پښتو او دري)

پروفیسور الهام

۱۰:۳۰ - ۱۰:٤٥ :څنډ

۱۰:٤٥ - ۱۲:۳۰ :دتېرې برخې دوام

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ۳:۳۰ :په لیکنه کې بنسټیز مسایل ژبنې اړخونه (پښتو او دري)

۳:۳۰ - ۳:٤٥ : څنډ

۳:٤٥ - ٤:۳۰ :د تېرې برخې دوام .

دریمه برخه

څلورمه ورځ ، ۱۹۹۹د جولای ۲۲

۸:۳۰ - ۱۲:۳۰ : د «لیکنې» د سرچینو پېژندنه : ساحوي کار

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ۳:۳۰ :د منابعو تحلیل او تشریح (ډله ییز کار)

۳:۳۰ - ۳:٤٥ : څنډ

۳:٤٥ - ٤:۳۰ :د منابعو تحلیل او وړاندې کول - ګروپي کار

(د معمول په شان د چای لپاره څنډ)

پنځمه ورځ ، ۱۹۹۹ د جولای ۲۳

۸:۳۰ - ۱۰:۳۰ د مجلو په ښکلا کې د ګرافیک هنر رول

۱۰:۳۰ - ۱۰:٤٥ څنډ

۱۰:٤٥ - ۱:٤٥ د مجلو مطالعه - ګروپي کار

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ٤:٣٠ : ګروپي کار - وراندې کول

(د معمول په شان د چای لپاره ځنډ)

څلورمه برخه

شپږمه ورځ ، ۱۹۹۹ د جولای ۲٤

۸:۳۰ - ۱۲:۳۰ : په مجلوکې د ګرافیک او هنر رول

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ٤:۳۰ :د مجلو انکشاف . ګروپي کار

(د معمول په شان د چای لپاره ځنډ)

اوومه ورځ ، ۱۹۹۹ د جولای ۱۹

۹:۰۰ - ۱۲:۳۰ : د تیرې برخې دوام

۱۲:۳۰ - ۱:٤٥ :د غرمې ډوډۍ او لمونځ

۱:٤٥ - ۳:۳۰ :تکرار او پرزنټیشن

۳:۳۰ - ۳:٤٥ : ځنډ

۳:٤٥ - ٤:۳۰ :نتیجه اخیستنه -- د تصدیق لیکونو وېشل

څلورمه ضمیمه

د ورکشاپ ګډون کوونکي

نوم	اړونده موسسه
عبدالقیوم کریم	په پاکستان کې د UNHCR دفتر - اسلام آباد
ثریا	ازاده لیکواله او ژورنالیسته
رویې رحمان	په پاکستان کې د UNHCR دفتر - کویته
زرغونه جبارخېل	د معارف مجله
صایمه پاینده	په افغانستان کې د UNHCR دفتر - اسلام آباد
محمد ابراهیم بامیانی	د UNOCHA دفتر - پېښور
غلام سخي بریالی	په پاکستان کې د UNHCR دفتر - جلال آباد
عزت الله جهید	په افغانستان کې د UNHCR دفتر - کابل
محمد عوض حصار نایی	PSD پېښور
ببرک احساس	CPPFA پېښور
نظیفه	CEPAC پېښور
عبدالصبور	د معارف مجله
اصیل خان	په افغانستان کې د UNHCR دفتر -کندهار
عنایت الله	د معارف مجله
محمد کبیر بختیاری	په ایران کې افغان لیکوال
عبدالحق دانشمل	د معارف مجله

انجنیر مزمل	د معارف مجله
امان الله آذر	د GTZ-BEFAR دفتر
محمد ابراهیم همکار	د التقوی عالي لهسه
نور الحبیب نثار	GTZ-BEFAR
محمد اسمعیل یون	د معارف مجله
محمد کبیر کاووسي	د رنگین کمان مجله

د ورکشاپ سمبالوونکی

د

ورکشاپ چلوونکی :داکتر ایکا نایکي

د ورکشاپ وینا کوونکي : پوهاند داکتر محمد رحیم الهام - ببرک احساس او عبدالحی « پوپلزی »

د ورکشاپ گزارش لیکونکي : صایمه « پاینده »

تنظیمونکی : عبدالقیوم کریم

اندوه یک ملت

تاریخ و فرهنگی ظریف
با ارزشهای غنامند
در گذرگاه ابریشم
بر گردونه، زمانه ها
میشتافت.
از خاور به باختر
و از باختر به خاور
اندیشه های ژرف را
با آیینهای یزدانی و جز آن
با دست ساختهای سازنده گان هنرمند
چون ارمغانهای همه پسند
و آمیخته به هم
میداد و میستد.
با ایمان به اغماض و شکیبایی
صلح و صفا
عشق و مواظبت
با یك یك و با همه گان،
با کردار نیك و سرشت آدمگرایی
پیامهای فرزانه گیش
در گنبد گوش جهانیان میپیچید.
چنین بود میهن ما
با شکوهی کهنمایه
چند گاهی پیش از این
این سر گذشت راستین
و میراثی ارجمن
در ژرفای زمانه فرو نشست
و دیگر نیست !
در نا شناخته گی گم شد
و در حلقوم جنگ و دهشت فرو رفت.
در گرو جبارانی رفت
که افغانها و سر زمین شان را
به تباهی کشانیدند.
و افغانها میترسند
و با دهشت میدوند

با دستان تهی
تنها جانهای شان در تن
و کودکان شان در بغل
به مهمان نوازی همسایه گان
میپناهند.
و دیگر افسرده اند از مهمان بودن
و خسته اند از پذیرش دلسوزی
به خاطر ثواب.
مرگبار است زنده گی شان.
کودکان بیوطن و بیچیز
شکار ستم شده اند
در چنان تسلسل دورانی بی پایان
که فرجامی ندارد.
و لاشخوارانی چند
بر این کودکان
بزکشی راه انداخته اند.
درگرد همآییهای بین المللی
آدمهای سر شناس
مینشینند و میگویند و بر میخیزند
در اینجا و آنجا و چندین بار
که گویا با طرح اصولی بیپایه
و طرز العملهای نا ممکن
صلح و اغماض را تامین میکنند.
وقت آن است
که دوستان دروغین
و دشمنان داخلی را بشناسیم
و بر ضد شان متحد شویم
تا آینده یی بسازیم
نیرومند و پایدار
و با خویشتن کمك کنیم
تا از فرزندان خویش
از سر زمین زیبا
از آب گوارا
و از جانور و گیاه آن
با هوشیاری و فرهیخته گی مواظبت کنیم.

PROPERTY OF ACKU 9252

شاعر : ډاکټر س . ب . ایکانایکی
مترجم : پروفیسور محمد رحیم الهام